رنا گل اریوبزی

۲۰۲۲/۰۵/۲۲

# زړور ګنډونکی

## د ماشومانو له پاره لنډه کیسه

وايي چې داوړي په یوه تازه سهر یووړوکی ګنډونکئ دکار میز ته کیناست. دی خوشال و او په خپل ټول ځواک یې ګنډ نه کوله. لږ څه وروسته یې مچان په سر راټول شول. ده مچان له سره شړل، وهل اویوځل یې په یوه وار اوه مچان ووژل. دی خپل زور ته حیران پاتې شو او له ځان سره یې وویل چې:

« په دې خوباید ټول خلک خبر شي.»

ولاړ او د ځان له پاره يې یو کمر بند جوړ کړاو په غټو تورو يې په ولیکل چې:

«په یوه ګزار اوه.»

ګنډ ونکي کمر بند تر ملا وتړه او دخوړو له پاره د یو څه شیانو په لټه کې شو. پنیر يې پیدا کړ او هغه يې له ځان سره واخیست. دېنبار دروازې تر مخه يې یو الوتونکئ ولید چې دوني په څانګ بند پا تې دی، هغه يې هم د ځان سره واخیست. د ګنډونکي لار تر یوه غره تیریده او هلته په غره کې یوه لویه بلا ناسته وه او په ارامی يې شاو خوا ته کتل. ګنډونکئ په ښه نیت ورنږدې شو او ویې ویل چې.« سلام اند یواله! غواړې چې د ما دلارې ملګرشي؟ لویې بلا ګنډونکي ته په سپکه سترګه وکتل او په ځواب کې يې ورته و ویل چې:

«ای ته پسته، رذ یله او بد بخته!»

ګنډونکي خواب ورکړ چې:

«ښه چې داسې وي نو!»

بیايې کمر یند ور ښکاره کړ. لويې بلا چې کمربند ته وکتل په لیکلې و چې:

«په یوه ګزار اوه.»

بلا په دې فکر کې شوه چې ګوندې دې واړه ګنډونکي اوه سړي په یوه ګزار وژلي دي او دهغه په وړاندې يې زړه ته یو څه دار ور ننوت، خوسره له دې يې هم غوښتل چې یو څه يې وازمويي. دې یوه تیږه په لاس کې واخیسته اوداسې يې ټینګه کړه چې دتیږې نه اوبه وڅکيدې. بیايې ګندوکي ته وويل چې:

«اوس ستا وار دی.»

ګنډونکي وويل چې:

« بس دومره!»

جیب ته يې لاس کړ، اوبلن پنیر يې راوایست او په لاس کې يې ترهغو ټینګ کړ چې اوبه ترې وڅکیدې. بلا نه پوهیده چې اوس څه ووايي، خو اخريې یوې تیږې ته لاس کړ او پورته هوا ته يې دورمه لرې وشړله چې په سترګو نه لیدل کیده. بیا يې ګندونکي ته وويل چې:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

«اوس نو د مرغابی په شان سړوکیه! ستا وار دی.»

ګنډونکي ورته وویل چې:

«تیره خو دې ښه لرې وشړله، خو بیرته په مځکه راولویده. زه به یې دومره لرې وشړم چې بیا هیڅ را ونه ګرځي.»

جیب ته یئ لاس کړ،الو تونکئ یې را وایست او په هوا کې یې خوشې کړ. اولوتونکئ ولوت، هوا ته پورته شو، ولاړ او بیرته را ونه ګرځید. لویې بلا وویل چې:

«هو! غورځول خو دې زده دي. اوس به وګورو چې کوم درونډ شی هم پورته کولی او وړلی شې او که نه.»

بیایي دا کوچني ګنډونکی د ځان سره د یوې غټې ونې په لور روان کړ چې په مځکه لوید لي او پرته وه. ور ته ویې ویل چې:

«که په رښتیا ډیر زور لرې، نوراځه چې دواړه په ګډه دا ونه د ځنګل نه وباسو.»

ګنډونکي په ځواب کې ورته وویل چې:

«په مینه! ته دوني تنه په اوږو کیږده، زه به یې څانګې اوشاخونه پورته کړم او په دې خو پوهیږې چې زما کار دستا د کار نه سخت دی.»

لویې بلا د ونې تنه اوږو ته پورته کړه او وړوکی ګنډونکئ د ونې په یوه شاخ سپور شو. لویې بلا چې ترشا یې نه شو کتلی، هم یې ونه څکوله اوهم یې ګنډونکی چې دونې په څانګه ناستو. دې چې دا د روند بار تر یوه بریده په اوږو یوړ ستړې شوه، نور یې نه شو وړلی او ګنډونکي ته یې وویل چې:
«واوره! زه مجبوره یم چې دا ونه له اوږو ښکته کړم.»

ګنډونکئ په بیړه دونې د څانګې نه راکوز شو او په دواړو لاسو یې دهغې څانګې ونیولې او داسې یې ښودل چې ګوندې دی هم ونه ور سره وړې او بلا ته یې وویل چې:

«ته څومره لویه بلا یې اوبیا هم دا یوه ونه نه شې وړلی.»

لویې بلا چې داحال ولید ترې وډار شوه اوپه بیړه وتښتیده.

وروسته تر دې چې ډیر وګرځید او راوګرځید، دیوه شاهی قصر انګړ ته ورسید. هلته په یوه چمن کې پریوت او ویده شو. کله چې دی ویده و، له هرې خوا ډیر خلک ورته راټلل اوله هرې خوایې لیده اوکله یې چې په کمربند دا ټکي ولوستل چې:« اوه په یوه ګزار. » نو په دې فکر کې شول چې:

«دا لکه چې یو ډیر ځوا کمن ښاغلی دی.»

نو ولاړل او پاچآ یې خبر کړ او ورته ویې ویل چې دا سړی دجنګ په وخت کې زموږ له پاره یوه لویه اوارزښتناکه مرسته کیدلی شي، نو ځکه یې باید په هیڅ صورت له لاسه ورنه کړو او په هر صورت چې وي له ځان سره یې وساتو. د خلکو دا مشوره د باد شا خوښه شوه او ګنډ ونکي ته یې امر وکړ چې د ده د پاچاهی په یوه ځنګل کې دوې لویې بلاګانې ژوند کوي اوډ یر زیانونه رسوي. که چیرې دی په دا دوو بلاګانو زور شي، نو خپله یوازنۍ لور به ده ته واده کړي او سر بیره پر دې به نیمه پاچاهي هم ورکړي. امر یې وکړ چې سل سپاره به په دې مقابله کې له ده سره مرسته کوي. ګنډون ګنکی راووت او کله چې د ځنګل لمنې ته ورسید، نو په ځنګل ورننوت، ښیٔ او کیڼې خوا ته یې وکتل اوله یو څو شیبو وروسته یې ولیدل چې دواړه لویې بلاګانې د یوې ونې لاندې ویده پرتې دي اوخرا یې پورت کیږي. ګنډن ګنکې د واړه جیبونه له تیږو ډک کړل او په ونه وخوت. کله چې د ونې منخ ته ورسید، نیغ په نیغه د په خوب ویده بلاګانو د پاسه په یوه شاخ کې تم شو او یوه تیږه یې د یوې بلا په سینه ور و غورځوله. دې بلا دابله بلا ټیله کړه او ورته ویې ویل چې:

«ولې مې وهې؟»

دې بلې بلا ورته وویل چې:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ

«ته خوب ګورې. زه تا نه وهم.» دواړه بلا ګانې بیرته پریوتې او ویده شوې. داځل یې په بله ډ بره دا دوهمه بلا وویشته. دې دوهمې بلا لومړۍ بلا ته وویل چې:« دا څه کوې، ولې مې په تیږه ولې؟» لومړۍ بلا ورته وویل چې زه تا په تیږو نه ولم.» د

واړو یو څو شیبې په خپلو منځو یوې بلې ته کنځلې وکړې، خو خوب په زور شو، ستر کې یې پټې شوې او بیا پریوتې. ګنډونکي خپله لوبه له سره پیل کړه. داځل یې د ډ برو په منځ کې تر ټولو غټه ډبره را واخیسته او لومړۍ لویه بلا یې په خپل ټول زور په سینه وویشته. لویې بلا چیغه کړه چې:

«دا خو پسته دښمني ده.»

او دلیونۍ په شان پورته شوه او خپله ملګرې یې په خپل ټول زور دومره سخته ټیل وهله چې هغه په ونه ولګید له او و ریږدید له. دوهمه بلا راپورته شوه او لومړۍ بلایې په خپل ټول زور ټیله کړله. دواړه سره په غوسه شوې او سم جنګ جوړ شو. ترهغوۍ یې سره وهل جې د واړه له زوره ولویدې او په مځکه پریوتې. اوس نوقهرمان ګنډ ونکي پا چاته ورغی. د پاچا زړه که غوښتل اوکه یې نه غوښتلوخو مجبور و چې په وعده ود ریږي. لور اونیمه پاچا هي یې ورکړه. لوی اوښکلی واده جوړشو او وړوکی ګنډونکی پاچا شو.

له الماني سرچینو نه
ژباړن: رڼا ګل اریوبزی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ